# زيړی

پښتو ټولنه
پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

چهارشنبه ▣ ۱۷ – ۲۰ مه ګڼه ▣ درېيمه دوره ▣ پرله پسې ۲۴۱ – ۲۴۴ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۴ لمريز کال د مرغومي (جدي) ۳۰ مه ▣ ۱۴۳۷ هـ ق کال د ربيع الثاني ۹ مه ▣ ۲۰۱۶ زېږديز کال د جنوري ۲۰ مه


## زيړی

سحر راغلـه تـر پنجرې يـوه بلبلـه
پـه خندا مـې مـات تندي تـه چغېدلـه
مخـامخ يـوې غـوټۍ بلـې تـه ووې
ګـوره! زيـړی د ګـل اخلـي يـو لـه بلـه

اجمل خټک

## د "ژبساتنه" نومي کتاب منځپانګې ته کتنه

**ځېړنوال مولاجان تڼيوال**

څه وخت وړاندې د يوه کتاب د کتلو په موخه د علومو اکاډمۍ مرکزي کتابتون ته ولاړم، خو په دې ونه توانېدم چې هغه کتاب ترلاسه کړم او ويې ګورم. پـه زړه کې مې راوګرځېدل چې استاد حبيب الله رفيع وګورم، ګوندې وي چې نوموړی کتاب ورسره وي او د ځو ورځو له پاره يې راکړي، ترڅو د خپلې نيمګړې ليکنې برخه پرې بشپړه کړم. استاد رفيع نه يوازې دا چې هغه کتاب يې راکړ چې ما غوښت، بلکې د "ژبساتنه" پـه نوم کتاب يې هم راکړ او راتـه ويې ويل چې: "دا کتاب ستا شو، درواېې خله."

ما هم د کتاب پـه لوستلو پيل وکړ او دا فکر راته پيدا شو، چې څو کرښې وربـاندې وليکم. د کتاب ليکوال د کتاب پـه سريزه کې يادونه کړې ده، چې دا کتاب د هغو مقالو ټولګه ده، چې پـه بېلابېلو وختونو کې د جلا جلا سيمينارونو او مناسبتونو له پاره ليکلې شوې دي.

زما پـه اند، پـه دې کتاب کې خوندي شوې مقالې د مختلفو ژبنيو ارزښتونو او ځينو نورو موضوعاتو پـه اړه ليکلې شوې دي، نو ځکه ما هم دا مناسبه وبلله چې د کتاب فهرست تـه پـه کتو سره، د هرې يوې موضوع پـه باره کې څو ټکي وړاندې کړم، ترڅو پـه دې وسيلې سره د هغه کتاب د منځپانګې ارزښت وښيم.

د اثر ليکوال ځينې نومونه او اصطلاحګانې چې ژبنی او تاريخي اهميت پـه کې نغښتی دی، د څېړنيزو موضوعاتو پـه بڼه تر څېړنې لاندې نيولي دي او د ښې پېژندنې پـه موخه يې لنډ خو پـه ژور ډول تشريح کړي دي. تر سريزې وروسته تر هر څه لومړی د پښتو ژبې په باره کې لنډې خبرې شوې او دا هـم ويـل شـوي، چې د دې ژبې ځينې نومونه او کلمې درې نيم، څلور زره کاله وړاندې پـه ويدي سندرو او سرودونو کې راغلي دي، پـه اوېستايي دوره کې يې د سرودونو پـه منځپانګه کې ځای نيولی او بالاخره د بېستون، سره کوتل، رباتک او اروزګان پـه ډبرليکونو کې خوندي شوي دي.

پورتنۍ ځرګندونې، کـه لـه يوې خوا د پښتو ژبې پـه لرغونتوب باندې دلالت کوي، نو لـه بلې خوا د ليکنۍ پښتو ځرک هم ورڅخه ځرګندېږي، ځکه چې ډبرې او نورې وسيلې چې د يوې ژبې ليکنې بـه وربـاندې نقش کېدې، د هماغـه وخت شرايط او امکانات پـه ګوتـه کوي. د نړۍ د ډېرو ژبو پـه باره کې معلومات پـه همداسې کتيبو کې خوندي شـوي او د ژبپوهـانو، څېړونکـو او لرغونپوهانو د هڅو او څېړنو پـه واسطه تـر موږ پورې رارسېدلي دي.

د "پښتون" د نوم پـه باره کې چې خورا لرغونی او تاريخي نوم دی، ويـل شوي دي چې دا د يوه ملت نوم دی چې د يوه کلتوري واحد پـه شکل لـه سره مېشتو قومونو له پيوستون څخه يې تشکل

درېيم مخ

## ادب د ټولنې هينداره ده؟

**اسدالله غضنفر**

دغه جمله ډېره مشهوره ده او ځينې خبرې چې مشهورې شي، خلکو تـه د کاڼي کرښې ښکاره شي، پـه حقيقت کې يې شک نه ورپيدا کېږي. کله چې د يوې خبرې پـه سموالي کې شک ونه کړو، معنا يې دا ده چې پـه پټو سترګو يې منو.

يوه هغه خبره، چې زموږ د ليکوالو او اديبانو پـه کړيو کې مشهوره شوه او دومره تکرار شوه چې لـه شکه ووته، همدا د عنوان جمله ده. موږ دا ومنله، چې ادب د ټولنې د هيندارې حيثيت لري او لـه دې خبرې مو پـه کره کتنو کې استفاده وکـړه. هغـه آثـار مـو ستـايل، چـې د ټـولنې واقعيتونو تـه پـه کې اشارې شوې وي.

خو کـه يـو شعر يـا داستان پـه دې خاطر ستايو، چې د ټولنې عکاسي يې کړې ده، نو دا کار خو راپورتاژ، تاريخ، يونليک يا نور ژانرونه چې تخييلي نه دي، لا پـه دقت او امانت سره کوي. کـه ادب د ټـولنې هينداره وي، نو تاريخ او اجتماعي علوم د څه لـه پاره دي؟

دې پوښتنې تـه دا ځواب ورکړ شوی دی، چې د ټولنې د واقعيتونو پـه انعکاس کې د اجتماعي پوهنو او ادبياتو طريقې بېلې دي. ادبيات همدا کار پـه ښکلي انداز، پـه غيرمستقيمه ژبه، پـه تصويري ډول او پـه حسي او جزوي طريقه کوي، خو علم عقل تـه مخاطب دی، نـه حواسو تـه. علم د قواعدو او کلياتو بيان دی، خـو ادبيات د جزيياتو.

پـه دغه ځواب باندې دوه اعتراضه کېدای شي: يـو دا چې ساينس بـه د کلياتو او قواعدو بيان وي، خـو تاريخ داسې نـه دی. دا يـوه ساينسي قاعده او کليه ده چې اوبه پـه سل درجې حرارت کې پـه بړاس بدلېږي، مګر تاريخ هېڅ وخت داسې فارمول نـه شي راکولای. تاريخ تر ډېره حده د پرلـه پسې پېښو بيان دی، چې ممکن لـه يو بل سره ژور تړاو ولري يا يې چندان ونـه لري. دغـه پېښې ممکن يـو بل تـه ورتـه وي او ممکن هېڅ ورتـه نـه

دوهم مخ

# د شعر او ادب ارزښت او ګټه

شرر ساپی

د ادبیاتو او په ځانګړې توګه د شعر په اړه د تاریخ په اوږدو کې ډېرې ناندرۍ راپورته شوې دي، چا ورته د یوه مقدس شي په سترګه کتلي او چا ورته د طبیعت پېښې او بې ارزښته خیالي نړۍ ویلې دی، په هره ټولنه کې د دې هنر په اړه بېلابېلې نظریې شته، په پښتني ټولنه او معاشره کې ادب خورا ډېر لرغونی دی، لیک او لوست ډېر وروسته رامنځ ته شو، د ځینو ادیبانو په نظر پښتو ځو زره کلنې لنډۍ او یا هم ټپې لري چې د پښتو ژبې د ادبیاتو د قدامت خورا ښه دلیل دی، دا چې له دومره زماني واټن سره یې بیا هم په ساه اخیستې او تر موږه یې ځان رارسولی دی، په خپله خپل ارزښت ثابتوي، په دې ټپو کې موږ د پخوانیو نیکونو د ژوندانه بېلابېل انځورونه ګورو، شعرونه او ټپې د لرغونو انسانانو ویدیو انځورونه دي چې موږ ته راپاتې دي، همدا ده چې ادب په عموم کې په ښکلي سبک د واقعیتونو تعبیر دی چې پر ژبه ولاړ دی، له واقعیتونو څخه مو موخه ټولنه ده، ټولنه له ضد او نقیض انځورونو څخه بشپړه شوې ده، په طبیعت کې، اسمان، ستوري، غرونه، سیندونه، خوړونه، ځنګلونه.... وجود لري، د انسان په وجود کې د وېرې او هیلو جګړه روانه ده، ټول هغه خیالونه او فکرونه چې د انسان په مغزو کې ګرځي، د ده په کړو وړو کې راڅرګندېږي.

نو د ادب ارزښت په همدې عناصرو ولاړ دی، ادب موږ د ټولنې په نبض پوهوي، د ټولنې درد را په ګوته کوي، چې وروسته پرې پوهان د تسکین پټې ږدي. انسان پټو او مرموزو خبرو ته په فطري ډول لېواله او تږی دی، ادب دغه تنده مړوي، د تېرو تمدنونو او ملتونو په اړه معلومات راکوي، موږ د خوشحال خان په شعرونو کې د اورنګزېب د وخت اړتیاوې نن ښې درک کولی شو، خوشحال خان څلورسوه کاله پخوا د پښتنو پر بې اتفاقۍ ساندې ویلې دي، د دوی مېړانه یې ستایلې، خو د دوی په ناپوهۍ یې افسوس کړی دی، که پنځه سوه کاله وروسته هم څوک د شپون صیب د سمڅې یاران ولولي، د نننۍ افغانستان د واقعیتونو او ناخوالو هینداره ده، که زر کاله وروسته یې هم څوک ولولي، نو زموږ هر څه درک کولی شي.

مصري ټولنه به د نجیب محفوظ په ناول کې وپېژنو چې څه غوښتنې او څه ته اړتیا لري، په نولسمه پېړۍ کې به فرانسوي ټولنه او پاریس د فرانسوي لیکوال بلزاک په ناول کې ووینو، یو فیلسوف په څرګند ډول وایي: د بلزاک ناول د فرانسې سیاسي او ټولنیز ژوند له اقتصاد پوهانو او ټولنپوهانو څخه په غوره او ښه ډول انعکاس کړی دی.

له دې سربېره، ادب له موږ سره د بشري طبیعتونو په لا پېژندلو کې مرسته کوي، د روسي د مشهور ناول لیکونکي دیستویفیکسي ناول "د کرامازوف ورونه" د دې لامل شو چې فروید ته (عقده ادیپ) نظریه الهام کړي، له میلاد څخه څلور پېړۍ وړاندې لرغوني یونانیان د ادب د اهمیت په اړه له ډېرو بحثونو وروسته دې پایلې ته ورسېدل، چې ادب انساني نفس له بدو هیلو او بدشګومه احساساتو نه پاکوي، چې دې ته یې د پاکوالي نظریې نوم ورکړ.

له مشهور عربي لیکوال او نقاد عقاد نه د ادب او ښکلي هنرونو د اړتیاوو په اړه وپوښتل شول؟ هغه وویل: "یو تن او یا کاله له سترګو پر ته ژوند کولی شي، خو او یا ورځې له ډوډۍ پرته ژوند نه شي کولی او هېڅوک نه شي ویلای چې ډوډۍ له سترګو نه ډېر ارزښت لري، که ډوډۍ لاس ته راوړو، له ټولو ژوندیو سره برابر یو، خو که ښکلا ترلاسه کړو، نو نه یوازې ژوندي یو، بلکې په غوره ولس کې مو غوره ګرځوي، د خپل احساس ښه تعبیر کولی شو، خو اړتیاوې د ژوند تر ټولو ټیټ پړاو دی، هغه چې موږ لوړ پړاو ته ټېل وهي، هغه هنرونه دي".

په دې عصر کې موږ ادب ته ډېره اړتیا لرو، څو د ټکنالوژۍ له غمونو خلاص شو، له صنعتي او فرهنګي یرغل څخه خلاص شو، که علمي پرمختګ موږ ته د ښه ژوند وسایل په لاس راکوي، خو په دې نه توانېږي چې د ښکلا هغه ثقافت په لاس راکړي چې موږ پرې د خپل انسانیت احساس وکړو، دوی خو موږ یوازې لکه بازاري غوټه پرېږدي، موږ په ادب کولی شو چې دغه ثقافت لاس ته راوړو، ادب د خلکو پر ژوند تاثیر لري، خوند او ګټه لري، وجدان او عواطف صیقل کوي، زموږ تجربې زیاتوي، د ژوند، طبیعت او حتی د خپل ځان په پېژندلو کې راسره مرسته کوي.

نړۍ له مادي او معنا څخه مرکبه ده، ماده جامده، کلکه او ګونګه ده، په ارادې پورې هېڅ تړاو نه لري، کله چې هم موږ د کوم معنوي شي د لاس ته راوړلو هڅه کوو، نو مادي اسباب ورته لټوو. نو مادي نړۍ د معنوي نړۍ نوکره ده، لکه جسم چې د روح په خدمت کې دی، همدا ده چې تاریخپوهان وایي: د فرانسې لوی انقلاب به نه وو رامنځ ته شوی، که "ولټېر او وروسو" خپل افکار د خلکو پر زړونو کې نه وای کرلي، انګرېزي لیکوال "کارلیل" وایي: "موږ انګرېزانو ته شکسپیر له ټول هند نه قیمتي او ارزښتمن دی". دا وینا خو هغه چا ته نااشنا ښکاري چې پوره ځېرنه ونه لري، بیا وایي: څنګه نو یو انګرېز که څومره لوړ ادیب هم و، په عقلونو یې دومره واکمني وکړه چې انګرېزي ادیبانو ته له هند څخه ارزښتناک دی، هغه هند چې د لویې برتانیې عظمت پرې ولاړ دی، خو که څوک لږ ځیر شي، نو دا شکسپیر و چې په خپلو قصیدو یې د برتانوي ملت عواطف راوخوټول، پاک یې کړل، لوړ یې کړل، جمال او جلال یې وروبخښه، قلم او کمال دواړه یې ورکړل، د هند فتحه چې میلیونونه خلک په کې اوسېږي د همدې ادبي ونې له برکته ده، هغه ونه چې شکسپیر په خپل لاس د دې لوی ملت له پاره نهال کړه.

ارجنټایني لوی لیکوال پورخیس به تل له

دریيم مخ

# په ژوندانه کې موخه او هدف

څېړنپوه سید محی الدین هاشمي

پوهان وایي، چې هدف ژوندانه ته ارزښت وربخښي او معنا یې ژوروي، نو څوک چې په ژوندانه کې منطقي او عاقلانه هدف ونه لري، څرګنده ده چې زیاتره له پرېشانۍ، پښېمانۍ او سرګردانۍ سره مخامخ کېږي او خپل ژوند بې ځایه بایلي. همدغه لوړ او سنجول شوي هدفونه دي چې ژوندانه ته لوری ورکوي او هغه تر یوه نېکمرغه، معقول او مقبول نظام لاندې راولي.

اصولاً باید په ژوندانه کې د هدف یا هدفونو ټاکل او هغو ته رسېدل، د انسان د شخصیت پوړ او د فکر له څرنګوالي سره متناسب وي او له یوې مخې پر عقلي معیارونو وسنجول شي. نو په همدې اساس، که موږ هر څومره د هدف په ټاکلو یا غوره کولو کې له پوهې او تدبیر څخه کار واخلو او هغې ته د رسېدو په لاره کې سم فکر او سلیم عقل په کار واچوو، بې له شکه به مو د ژوند ټول هدفونه لوړ وي او د ترسره کولو له پاره به یې هم ډېرې ښې او غوره لارې چارې وموندلی شي. هغوی چې له سلیم عقل، لوړې پوهې او تدبیر څخه بې برخې دي یا به په ژوند کې هېڅ هدف ونه لري او یا به یې هدفونه بې ګټې او بې نتیجې وي او هغو ته رسېدل به هم څه ټولنیز ارزښت او اهمیت ونه لري.

دا باید ومنو چې د هر انسان ښه او یا غوره او ناغوره هدفونه په یوه یا بله بڼه د هغه د عقل، پوهې او شخصیت د معیار څرګندویي کوي. د یوه ماشوم هدف چې تراوسه لا د سن (عمر) له مخې له فکري او عقلي ودې څخه پوره برخمن نه دی، کېدای شي چې یوازې د هغه ماشومانه غوښتنو، هیلو او هوسونو ښکارندویي وکړي او همدارنګه هغه شخص هم، چې که عمر پرې ډېر تېر وي، خو چې عقل او پوهې یې لازمه وده او پرمختګ نه وي کړی، همدغه شان یې وګڼئ، خو د دې سرچپه بیا هغه انسان چې له سلیم عقل

دریيم مخ

هغه څه چې انساني ژوند ته معنا او ارزښت وربخښي، لوړ همت او هلې ځلې دي او دا دواړه ځواکونه بیا هله اغېزمن او چارجوړوونکي وي، چې ټاکلی لوری ولري او پر یوه مطلوبه تګلاره یون وکړي. یوازېنۍ وسیله چې کولی شي دغه حرکت ته ډېر منطقي او سم لوری ورکړي، په ژوندانه کې د معقولو او مشخصو هدفونو لرل دي، چې ټاکل او غوره کول یې هم باید اصولاً د پوره پوهې او تعقل له مخې شوي وي.

له همدې امله ده، که د لوړ همت، هاند او هڅو سپرلۍ له معقولو او مخکې تر مخکې ټاکل شویو هدفونو څخه پرته خپل حرکت پیل کړي، بې له شکه چې دغه تګ او یون به یې ګټور او نېکمرغه نه وي او نه به د هوډ او هلوځلو سپرلۍ تر مطلوب ځایه روغه رمټه ورسېږي. ټول حرکتونه او هڅې به یې له پرېشانۍ، سرګردانۍ او پښېمانۍ پرته بله پایله ونه لري.

همدې ټکو ته په پاملرنې، زموږ ژوند هله معنا او مفهوم پیدا کوي چې هلې ځلې، هاند او هڅې مو د لوړو هدفونو پر بنسټ ولاړې او هره شېبه یې په پلي کولو بوخت و اوسو.

کله کله وینو چې یو څوک داسې کار ترسره کوي، چې ټاکلی هدف په کې نه وي نغښتی یا په کې موخه او هدف نه شي تصور کېدای او یا که څه هدف هم ولري، هغه هومره ارزښتمن نه وي. دغه ډول کارونه باید یوازې او یوازې یو ډول تفنن یا ساعت تېری وګڼل شي.

په ژوندانه کې یو ارمان یا موخه هغه وخت خپله رښتینولي پیدا کوي، چې هغه د ژوندانه د یوې سرنوشت جوړوونکې مسئلې په نتیجه کې رامنځ ته شي او ورته د رسېدو په لاره کې له هغو ټولو امکاناتو څخه، چې د انسان په واک او ځواک کې دي، په مناسبه توګه کار واخیستل شي.

د خورا پېرزو کوونکي او لورووونکي الله په نامه

## سرلیکنه

## د ځینو اوسنیو پښتو کتابونو او نورو چاپي خپرونو ستره املایي او انشایي ستونزه

املا په ادبي اصطلاح کې د کلمې د لیکلو طریقې او سم لیکلو ته وایي یا په بله وینا، خپلې یا د بل خبرې په صحیح ډول لیکلو ته وایي. په املا کې څه چې لیکل کېږي، هغه باید د صحیح تلفظ له مخې وکښل شي، د الفاظو په لیکلو کې باید د ژبې د ګرامر (صرف او نحوې) د اصولو مراعات وشي، د کلمې او جملې له اشتباه او ابهام څخه د ژغورنې له پاره دا ښه بلل شوې ده، چې له لیک نښو څخه کار واخیستل شي.
انشاء بیا په ادبي اصطلاح کې یو نوی فکر او نوی خیال په ښو الفاظو کې د ژبې له قانون سره سم په اغېزمن ډول څرګندولو ته وایي.

له دې وراخوا، کله چې یو متن کښل کېږي، هغه بیاکتنې، سمون او ایډېټ ته اړتیا لري. د متنونو ایډېټ او سمون له هغو چارو څخه دی، چې د نړۍ په ټولو هېوادونو کې معمول دی او ایډیټر یا د یوه متن سموونکي ته د لیکوال یا ژباړونکي په څېر د قدر په سترګه کتل کېږي، خو له بده مرغه، زموږ په هېواد کې لا دغې پدیدې واقعي او رښتینی ځای نه دی خپل کړی، چې دا کار بېلابېل عوامل لري:

یو دا چې، زیاتره لیکوال یا ژباړونکي په دې باور دي، چې په لیکلو کې به یې ستونزه نه وي او یا دا چې، د خپل نوم ترڅنګ د ایډیټر د نوم راوړل به ورته د خپل مقام راکمول برېښي.

بله دا چې، ځینې خپرندویان یو ناایډیټ شوی کار چاپوي او چمتو نه دي، چې دا کار چاته وسپاري، سره له دې چې، معمولاً په نورو هېوادونو کې ټول ناشران د خپلو چاپ شویو کتابونو د ایډیټرانو او ادبي سلاکارانو له نومونو څخه ګټه اخلي، ځکه کله چې یو کتاب کوم تکړه ایډیټر سم کړی او ایډیټ کړی وي، نو بیا کتاب د هغه نوم راوستل، د کتاب د لا ډېر پلور په برخه کې مرستندوی ګرځي.

له دې وراخوا، کله چې یو لیکوال اثر ولیکي، په ځانګړي ډول، کله یې چې لومړی اثر وي، نو چاپ ته یې دومره وارخطا وي، چې د اثر املا او انشاء ته یې هېڅ پام نه وي، هدف یې یوازې همدا وي، چې کتاب یې ژر چاپ شي.

څلورم دا چې، زموږ یو شمېر لیکوال چې کله یو متن کمپوز کړي، نو بیا ته له دې چې سافټ کاپي یې ایډیټ کړي، هملته په کمپیوټر کې یې هارډ کاپي ایډیټ کوي، چې د تجربې له مخې، په دې ډول ایډیټ کې د متن املایي تېروتنې هرومرو لږو ډېرې پاتې کېږي.

ایډیټ د تألیف او ترجمې د کار د پرمختګ له پاره ډېر رغوونکی رول لري؛ ایډیټر نه یوازې دا چې د لیکوال یا ژباړونکي کار د ګرامر او د لیکنې د اصولو له نظره همغږی

# د مور له خوا خپل زوی ته یو له درد او نهیلۍ څخه ډک لیک

ژباړن: سلطانخېل خاورې

**زما زویه!** دغه ستا د بېچاره او اسکېرلې مور له لوري یو له درده ډک لیک دی... چې وروسته له ډېر انتظار او زړه نازړه توبه یې دا دی په داسې حال کې درته لیکم، چې له ډېرې حیا او شرمه، لکه خزان وهلې ژېړه پاڼه رېږدم. څو ځله مې قلم راواخیست، خو غږېو او ژړا به مې د لیکلو مخه ونیوله. په هر صورت اوس مې که څه هم د خپلو اوښکو ملونه نیولي، خو د زړه فریاد مې نه غلی کېږي او د سویو اسوېلو په ښه مې له ستوني خولې ته راځي او تر ما راچاپېره په یوه غم لړلې فضا کې خورېږي او ورکېږي.

**زما زویه!** وروسته له کلونو پوهېږم، چې هم رشید او عقلمن شوی یې او هم په خپلو احساساتو او عواطفو کې منځ لاری، زما حق پر تا دا دی چې دغه لیکپاڼه ولولې او وروسته له لوستلو دې که وغوښتل، داسې یې څیرې کړه، لکه له دې وړاندې چې دې زما د زړه صفحه ټوټه ټوټه کړه.

**زویه!** د خپل عمر په پنځه ویشت کلنۍ کې چې کله روغتیا پال راته د حاملتوب وویل، نو باور وکړه، دغه شېبه راته د ژوندانه تر ټولو په زړه پورې وه.

**زویه!** میندې د دې خبرې په معنا ډېرې ښې پوهېږي، چې د دردونو له پیل سره د خوښیو ګډون او بېلابېل جسمي او رواني بدلونونه او تغییرات څومره دردوونکي او وېروونکي وي، خو خیر له دې زېږې وروسته مې نهه میاشتې په ډېره خوښۍ او هیله مندۍ په خپل نس کې وګرځولې، په داسې حال کې چې په سختۍ سره به پاڅېدم او ویدېدم، نه مې له خوراکه خوند اخیست او نه مې د آرام ساه کښلای مې د خیر او توفیق ارزو لرله، ستړیا مې نه پېژندله او تل مې تر خپل نظر او څارنې لاندې ساتلې، تردې چې د ښکلي چنار په شان دنګ شوې، ځوان شوې، هوښیار او د سړیتوب نښې درکې څرګندې شوې، ورسره سم ما هم ستا له پاره د کوزدې په لټه کې یوه خوا او بله خوا منډې رامنډې پیل کړې، ترڅو مې درته کوژده هم وکړه، د واده وخت دې راورسېد، خو زړه مې مات او ستا د نوي ژوندانه د شوق اوښکې مې ستا د بېلتانه د غم له اوښکو سره همغاړې جاري شوې.

دغه ترخې او غمناکې شېبې ورو ورو تېرېدلې، ترڅو وپوهېدم چې ته هغه زوی نه یې چې ما پېژندلې، ځکه موسکا دې محوه، غږ دې غلی او څېره دې عبوسه او تروه شوه، زما حق دې هېر کړ او نادیده دې وګڼلم. ورځې تېرېږي چې تصویر ته دې ګورم او په خورا تلوسې سره دې د غږ اورېدو ته په تمه یم، ولې دریغه چې بېلتون دې اوږد او زمانې سره بېل کړو، سترګې به مې له اوښکو ډکې په دروازه وګنډلې، خو ته به نه راتلې، د ټېلفون زنګ ته به غوږ غوږ وم، تر هغه ځایه چې فکر مې کاوه، وسواسي شوې یم.

دغه شېبې تاریکې شوې او ورځې اوږدې، خو زه دې نه څېره وینم او نه دې غږ اورم. تا هغه څوک چې ته به یې په بهترینه توګه پاللې او روزلې، نادیده نیولې او هېره کړې ده!

**زما زویه!** زه نور څه نه غواړم، یوازې ستا د بدبختۍ او نوې خواخوږۍ په توګه د خپل ژوندانه په داسې ځای کې ځای را، ترڅو دې په میاشت کې یو ځل لږ تر لږه د لنډو شېبو له پاره ووینم.

**زویه!** زړه مې مات او اوښکې مې پر مخ لارې جوړوي، په داسې حال کې چې ته لا ژوندی یې، خو زما ترڅنګ نه یې او خلک ستا د خوش خلقۍ، سخا او کرم خبرې هم کوي.

**زویه!** هغه وخت لا نه دی راغلی، چې ستا زړه د یوې داسې ناتوانه ښځې په وړاندې نرم شي چې ستا د لیدو، هیلې، لېوالتیا او اشتیاق هم له پښو غورځولې او هم یې ټول وجود له غمه کړېږي. تا یې اوښکې وبهولې، زړه دې غمجن او اړیکه دې ورسره وشلوله.

**زویه!** د جنت ور ستا په وړاندې دی، لاره یې ونیسه او لاړ شه د انګړ دروازه یې په خوږه موسکا، بخښنې او خود ګذرۍ او ورین تندي سره وټکوه... ګوندې وي چې هلته د خپل پروردګار په رحمت سره ستا لیدو ته راشم، لکه څرنګه چې په حدیث شریف کې راغلي دي: پلار د جنت منځنی ور دی، اوس که دې غوښتل، دغه در شل له لاسه ورکړه یا یې وساته (احمد روایت کړی دی).

**زویه!** له هغه وخته چې خوشقده او ځوان شوې، لیدلې به مې چې د اجر او ثواب په لټه کې وې، خو نن دې د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) دغه حدیث شریف هېر کړی، چې فرمایي: د الله تعالی په وړاندې غوره د اعمالو په لومړي وخت کې لمونځ کول، له مور او پلار سره ښېګڼه کول او د الله (جل جلاله) په لاره کې جهاد دی.

اوس ووایه! ته چېرې او د الله تعالی په نزد محبوب ترین اعمال چېرې !؟

**اې زویه!** زه ستا له پاره الله (جل جلاله) ته پناه

کوي، بلکې ستونزې او نیمګړتیاوې یې لرې کوي او یو پاک او صفا متن وړاندې کوي. ایډیټر معمولاً لیکنه له زوایدو پاکوي او په داسې ډول یې برابروي، چې لوستونکی یې په ډېرې اسانۍ سره وویلی شي او له لوستلو نه یې خوښي ښکاره کړي.

دې ته په پاملرنې سره، چې اوسمهال د پښتو کتابونو د چاپ بهیر ګړندی شوی، خو زموږ په هېواد کې ایډیټ یا د متن اصلاح او سمون ته لازمه پاملرنه، نه کېږي او نه هم ورسره زیاتره لیکوال، ژباړونکي او ناشران ډېره لېوالتیا لري. داسې ډېر مهم، ارزښتمن او د مأخذ وړ پښتو آثار شته، چې کله یې څوک لولي، نو د چاپي تېروتنو او املایي ستونزو له کبله د لوستونکي مطالعه ټکنۍ کوي او د مطالعې له خوند او سمې استفادې څخه یې وباسي. په دې برخه کې د لیکوال، ایډېټر او ناشر ترمنځ یو درې اړخیز قرارداد رامنځ ته کول په کار دي.

نو د دې له پاره چې دا نیمګړتیا لرې شي، هیله ده :

- ✓ دې برخې ته ټول، په ځانګړي ډول علمي او اکاډمیک، تحصیلي او تعلیمي مؤسسات ډېره پاملرنه وکړي. کله چې یو کتاب چاپېږي، نو لومړی خو باید دې ته لومړیتوب ورکړل شي، چې په داسې یوه مسلکي کمپوزر هغه کمپوز شي، چې په دې برخه کې پوره مهارت ولري.
- ✓ کله چې کمپوزر لیکوال یا ژباړونکي ته پروف ورکوي، نو په ډېر غور سره دې دوه یا درې ځلې وګوري، املایي غلطۍ دې یې سمې کړي.
- ✓ په دې سربېره لیکوال یا ژباړونکی دې په خپل ایډیټ بسنه نه کوي، بلکې یوه بل کس (کاپي ایډېټر) ته دې اثر ورکړي، ترڅو یې هغه هم له نظره تېر کړي او پاتې شوې املایي او انشایي تېروتنې یې سمې کړي.
- ✓ په ایډېټ کې باید هرې کلمې ته بشپړه پاملرنه وشي، په ځانګړي ډول د شمېرو، کلونو او اشخاصو نومونو ته دې ډېر دقت وشي.
- ✓ له چاپي، موقوتو او غیر موقوتو خپرونو وراخوا، نن سبا پښتو په پراخه کچه انټرنټ ته هم ننوتلې، ګڼې پښتو وېبپاڼې رامنځ ته شوې، چې دا د پښتو ژبې له پاره یو مثبت ګام دی، خو اندېښمنوونکې دا ده، چې په زیاترو هغو کې لیکنې بې له ایډیټ څخه خپرېږي. هیله ده، د وېبپاڼو مسوولین لومړی ورلېږل شوې مقالې ښه ایډېټ کړي او بیا یې خپره کړي.

سره له دې چې پښتو ژبه اوسمهال یو نسبتاً منل شوی معیار لري، خو که د یوه ټولمنلي معیار په شتون کې لا هم یو څه ستونزې وي، دا خو د هر لیکوال په وس کې شته، چې څه لیکي، په هغه کې له املایي تېروتنو ډډه وکړي او په بیا - بیا کتلو په کې نیمګړتیا پرې نه ږدي. له بده مرغه، ځینې لیکوال په دې برخه کې ډېر بې پروا دي او دا پښتو ژبې او په خپله لیکوال ته ډېره تاواني خبره ده.

که څېرې پورتني پړاوونه د هر کتاب له چاپ مخکې په پام کې ونیول شي، نو پوره باور دی چې زموږ کتابونه به ډېره کمه املایي غلطي ولري. خو دا یادونه اړینه برېښي، چې موږ اوسمهال ځینې داسې آثار هم لرو، چې املایي غلطۍ په کې ډېرې کمې لیدل کېږي او یا په نشت حساب دي، فکر کېږي، چې د هغو لیکوالو به د خپل اثر په کره کولو کې، له پورته یادو شویو او ځینو نورو پړاوونو څخه په یو نه یو ډول استفاده کړې وي.

په دې هیله چې یو وخت، زموږ پښتو کتابونه او چاپي رسنۍ املایي او انشایي

شوای، خو پورتنیو ټولو کړاوونو ستا په اړه، نه یوازې زما مینه او لېوالتیا کمه نه کړه، بلکې ورځ په ورځ مې له تا سره مینې او اشتیاق وده کوله. له ډېرو دردونو او سختیو سره سره مې زویه حمل وزغماه، په ټګ به خوشحالېدم او د وزن په زیاتوالي به دې له خوښۍ نه په جامو کې نه ځایېدم، حال دا چې د غه حالت زما د بار د روندوالي سبب ګرځېده! سخت او دوامداره دردونه مې وزغمل، ترڅو د هغې شپې سهار راغی، چې سترګې مې سره ورنه وړې او وېښه مې تېره کړه، ورپسې په داسې درد، وېره او وحشت اخته شوم چې ژبه یې له بیانه او قلم یې له انځورولو عاجز دی. یعنې دردونه مې دومره ډېر شول چې له ژړا ولوېدم او څو ځله مې مرګ په خپلو سترګو ولید، ترڅو ته دې نړۍ ته سترګې وغړوې او د لومړۍ ژړا اوښکې دې زما د مینې او تلوسې له اوښکو سره ګډې او ټول دردونه مې پای ومومي، ولې بیا مې هم مخکې له دې چې یو څاڅکی او به تا ته ورسېږي، ښکل کړې.

**زما زویه!** که څه هم کلونه ستا له عمره تېر شول، خو ما له خپل زړه ونه ایستې، په خپلو لاسو مې مینځلې او غېږ مې ستا له پاره بستروه، ترڅو زما له سینې څخه تغذیه او د دې له پاره چې ته ویده شې، په شپو شپو به ویښه پاتې وم، تر دې حده چې د ورځې به مې هم له بېخوبۍ څخه سر ګرځېده او لالهانده به وم.

خوښېږم که ووایم... چې د هرې ورځې هیله مې دا وه، چې پر شونډو دې موسکا ووینم او هغه څه چې ته یې وغواړې، زه یې در ته په ډېره خوښۍ تیار کړم.

ورځې او شپې تېرېدې، خو زه لا هم ستا د یوې وظیفه شناسې خدمتګارې، نه ستړې کېدونکې دایې او بېتابه کاریګرې په توګه لګیا وم او تا ته به

**زویه!** ملا مې کړوپه شوې، لاس او پښې مې رېږدي، ناروغۍ له آده باده غورځولې او پرېشانیو مې ماغزه ناقراره کړي دي، په سختۍ سره پاڅم او په شواخون سره کېنم، خو زړه مې لا هم ستا په مینه کې ورو ورو غورځي، که څوک درسره یوه ورځ نېکي وکړي، ایا ته به یې د نېکۍ او ښېګڼې ستاینه، مننه او تمجید ونه کړې، په داسې حال کې چې ستا مور درسره د زړه وینې خوړلې، بې شمېره ښېګڼې یې درسره کړې، خو ته یې نه یوازې بدله نه ورکوې، بلکې نادیده یې نیسې. کلونه کلونه یې ستا چوپړ کړی او څارونکې دې وه، ووایه! څېرې ده ستا له بېوزلې مور سره وفاداري او بدله !؟

ایا تر دې بریده سخت زړی شوی او زماني په خپلو منګولو کې مروړلی یې؟

**زویه!** هر ځل چې به دې په ژوندانه کې له خوشبختۍ او خوشحالۍ خبره شوم، نو سرور به مې زیاتېده... خو اوس حیرانه یم، ولې وضعه دا ډول ده، په داسې حال کې چې تا خو زما په لاس لوی شوی یې....

کومه ګناه مې کړې، چې دښمنه مې بولې او د لیدو زغم مې نه لرې یا مې له ملاقاته په سرتمبګۍ سره مخ اړوې.

ایا تراوسه مې هم له تا سره په چلند کې سهوه یا ستا په خدمت کې کوتاهي کړې ده؟ پر ما باندې هم ستا د نورو هغو خدمتګارانو په څېر چې ته یې د لاس مزدوري ورکوې، رحم وکړه او لږ احسان راباندې ولوروه. نېکي راسره وکړه، ځکه الله (جل جلاله) نېکي کوونکي خوښوي.

**زویه!** ستا د لیدو هیله لرم، بې له دې بل څه نه غواړم، پرېږده چې د څېرې په لیدو دې زما سترګې یخې شي.

وړم، ترڅو له هغو کسانو څخه نه شې چې پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) ورته داسې خطاب کړی: "پوزه دې په خاورو سپېره شي، پوزه دې په خاورو سپېره شي، ورته وویل شول: اې د الله رسوله! د چا؟ ویې فرمایل: د هغه چا چې پلار او مور یو له هغوی یا دواړه د زړښت په حالت کې ورسره ژوند تېروي، خو دی بیا هم جنت ونه ګټي."

**زویه!** ګیله نه کوم او غم مې نه څرګندوم، ځکه که خدای (ج) مه کړه، همداسې وکړم او آسمان ته د شکایت چیغې پورته کړم، نو له بدمرغۍ څخه به د والدینو عاق وګرځې، عذاب به درپسې شي او په مصیبتونو به اخته شې، نه، داسې به ونه کړم...

**زویه!** ځکه ته په دې نیمګړې او تېرېدونکې دنیا کې لا هم زما د زړه سر او د خوښیو سرچینه یې؟

**راویښ شه زویه!** ویښتان دې د سپینېدو په حال کې دي، کلونه ځغلي، سپین ږیری پلار به شې او پوه شه چې بدله د عمل له جنسه ده، هغه ورځ لېرې نه ده چې خپل اولاد ته به داسې له افسوسه ډک او غمجن لیکونه ولیکې، لکه ما چې تا ته ولیکه، ځکه وایي چې: څه کرې، هغه به رېبې.

**زویه!** د مور په هکله دې د الله تعالی وېرې ته په زړه کې ځای ورکړه او هغه ومومه، چې جنت یې تر قدمونو لاندې دی. اوښکې یې پاکې او ورسره خواخوږي وکړه.

هو، وروسته که دې وغوښتل، لیک یې څېره کړه او وپوهېږه، چې که چا غوره چاره سرته ورسوله، ګټه یې د ځان ده او څوک چې بدي وکړي، نتیجه یې په خپلهویني...

## ادب د ټولنې هینداره...

وي. په یوه ملک کې شاید بېوزلي د خلکو د انقلاب سبب شي او په بل ملک کې به شتمني خلک بغاوت او انقلاب ته وهڅوي. په ایران کې خلکو هغه وخت انقلاب وکړ، چې د تېلو بیې تر بل هر وخت زیاتې شوې وې او ایرانیان تر بل هر وخت په ګېډه ماړه وو، خو د اکتوبر په انقلاب کې د هغې

لوږې لوی لاس و، چې د لومړي نړیوال جنګ په وجه پیدا شوې او د روس امپراطوري یې ځپلې وه.

بل اعتراض دا کېدای شي، چې که هنر او ادب د ټولنې هینداره وي، نو د هیندارې غوندې یې باید هر شی په اصلي بڼه ښودلای. شاعر د ننګه نجلۍ، سروه وبولي او ووایي چې سروه مې په ګودر ولیده. نظامي ګنجوي خپل زوی ته وایي، چې د شعر په فن باندې کار مه لره، چې د لته لوی دروغ لوی امتیاز

بلل کېږي.

په دې کې شک نشته، چې ادب تر یوه حده پورې د ټولنې په پېژندلو او معرفي کولو کې په کارېږي، مګر د ټولنې له هیندارې سره که یې تشبیه کوو، دا به مبالغه او ناسمه خبره وي .ادبي آثار که هینداره هم بولو، ما ته هینداره یې باید وبولو. ما تې هیندارې تصویر کټ مټ نه منعکسوي، بلکې کمی او زیاتی په کې راولي.

## د "ژبساتنه" نومي کتاب...

موندلی دی.

دا یادونه د پښتون د کلمې هغه لرغونی او تاریخي اصالت په ګوته کوي، چې په ډېرو لرغونو وختونو کې مؤرخینو او سیلانیانو د پکت، پکهت... په نومونو یاد کړی او ډېره ځنډنه اریایي قبیله یې بللې ده. وروسته د پښتونولۍ اصطلاح شرحه شوې، د یوه قانون نوم ورکړل شوی او ویل شوي چې دې قانون په ژوند کې ځینې ارزښتونه ټاکلي او د پښتنو د لاښه، منظم او منسجم ژوند له پاره یې عملي کړي دي...

که چېرې د پښتونولۍ اصطلاح کلي او جامع مفهوم ته وکتل شي، نو په زغرده ویلای شو چې په دې قانوني چوکاټ کې داسې کلتوري ارزښتونه پراته دي چې موږ یې د نرخونو، مرکو او جرګو په نومونو سره یادوو او زموږ په ژوند، کلتور او تاریخ کې دومره د باور وړ دریځ او عمر لري چې ولیې (ریښه) یې لرغونو اریایانو او لومړنیو انسانانو ته رسېږي. دې ارزښتونو زموږ د ولس او هېواد په تاریخ کې خپل رول څرګند کړی او زموږ خلک، ټولنه او هېواد یې له بحراني حالاتو، ترخه ناورین او سترو بوخولو (فاجعو) څخه را ایستلی دی.

په همدې اثر کې ویل شوي چې پښتونخوا د دې ملت ټاټوبی دی، چې یونانیانو پکتیا او پکتیکا بلله، زموږ په ژبه پښتونخوا او وروسته افغانستان وبلل شو. په دې ځای کې دا یادونه هم شوې ده، چې پښتو ژبې هم د ویدي او اوېستایي سندرو لاره ونیوه او ډېر اولسي ادبیات یې رامخې ته کړل.

د اثر لیکوال وایي، د میندو او ماشومانو سندرې هغه لرغونې سندرې دي چې د زړو او مړو ژبو توکي او جملې په کې خوندي دي. نوموړی زیاتوي، لنډۍ هغه موجز او معجز کلام دی چې په پوخوالي او جامع والي کې یې د نړۍ په ژبو کې ساری نه لیدل کېږي. ده څو پښتو لنډۍ راوړې دي چې یوه یې د بېلګې په ډول په لاندې توګه یادولی شو:

**سپوږمیه سر وهه راخېژه**
**یار مې د ګلو لوکوي ګوتې ریبینه**

استاد رفیع په پښتو ادب کې د خورو – ورو هڅو تر یادولو وروسته، د لسمې پېړۍ په اکتشافاتو باندې خبرې کوي او وایي، له بایزید روښان سره پښتو آثار نه وو چې کتلي یې وای، نو د پښتو غږونو له پاره یې د تورو په جوړولو لاس پورې کړ، خو دغه کار یې هم الهامي باله. ده په عربي تورو باندې وړې وړې کښنې ورزیاتې کړې، خو مهم کار یې دا وکړ چې د توري له پاسه توری کېږدي، لکه موږ چې د (ځ) توري له پاره د (ح) په سر باندې د همزه توری ږدو.

زما په نظر خو د روښان دا کار د ستاینې وړ دی، ځکه چې د احساس له مخې یې ترسره کړی دی. د بایزید روښان موخه دا وه چې ټول پښتانه په لیکنو کې همدا لیکدود وکاروي او په دې برخه کې پرتې ستونزې له منځه ولاړې شي. استاد رفیع وایي چې اخون درویزه او خوشحال خان خټک هم لیکدودونه رامنځ ته کړل.

خوشحال خان که څه هم د روښان او اخون درویزه د لیکدودونو مخالف و، خو د ده او روښان لیکدودونه د سلو کلونو او ډېر وخت په اوښتو سره له کاره ولوېدل او د اخون درویزه لیکدود چې په لږ تغییر سره تر موږ رارسېدلی، ومنل شو.

دلته سړي ته دا پوښتنه پیدا کېږي، چې د اخون درویزه لیکدود د هغو نورو دوو لیکدودونو په پرتله څه ښېګڼې درلودې چې ومنل شو.

د کتاب لیکوال د پورتنیو څرګندونو په خوا کې یوه ډېر مهم ټکي ته نغوته کړې ده او هغه د لهجوي لیکنې او د خپلې لهجې له پیروۍ څخه ډډه کول دي.

زه دا منم چې په لهجو کې داسې توکي شته چې په علمي څېړنو کې رغنده رول او ټاکونکې ونډه لري او کولی شي چې د ابهام مخه ونیسي، خو دا د دې معنا نه لري چې یو څوک په لیکنه کې معیار تر پښو لاندې کړي او خپله خوښه معتبره وګڼي. د معیار او اصل منل ستونزې له منځه وړي او یووالی او پوخوالی رامنځ ته کوي.

د اثر لیکوال د "ژبنۍ پانګه او ادبي پانګه" تر سرلیک لاندې په ژبه کې د غږونو د تولید په لړۍ غږېدلی او د همدې لیکنې په ترځ کې یې دا ښودلې ده، چې د یوې ژبې ټوله ادبي پانګه ادب نه بلل کېږي، ځکه چې ادب که په نظم کې وي او که په نثر کې وي، باید چې ادبي ځانګړنې او هنري اړخونه ولري او ژبه یې هم عالي وي. که دا ځانګړنې په کې نه وي، ادب نه ورته ویل کېږي. په همدې لیکنه کې دا هم په ګوته شوې دي، چې ټول منظوم آثار هم ادب نه شي بلل کېدای. دلته د پاملرنې وړ ټکی دا دی چې په څرګند ډول دا ښودل شوي، چې ژبنۍ پانګه تر ادبي پانګې پراخه ده او ادبي پانګه د هغې یوه برخه جوړوي.

تر دې وروسته د کتاب مؤلف له یوې بلې موضوع سره چې "پښتو ژبه" نومېږي، تماس نیولی دی. په دې اړه چې لیکوال څومره څېړنه کړې ده، له هغې څخه د پښتو ژبې قدامت او لرغونتوب زیاتېږي. دی په دې ارتباط په افسانو او اسطورو کې داسې لغتونه پیدا کوي، چې همدا اوس هم په پښتو ژبه کې کارول کېږي او د پښتو ژبې لرغونتوب له هغه وخت څخه هم پسې اړوي، چې په ځینو اسنادو کې لیدل کېږي.

موږ دا منو چې افسانې او اسطورې واقعیتونه نه وي، خو په هغوی کې شته لغتونه موږ دې ته هڅوي چې ویې څېړو او دا وښیو، چې هغه عناصر د کومې ژبې مال دی. که د "ژرګون" په افسانه کې ځینې کارول شوي لغتونه وکتل شي، نو دا به ترې جوته شي چې د پښتو ژبې اړوند عناصر دي، نه د کومې بلې ژبې. د ژرګون په افسانه کې ځینې کارول شوي لغتونه د پښتو ژبې د لرغونتوب او لیکنۍ پښتو د شتون ډېر روڼ مثال دی.

د همدې لیکنې په اوږدو کې دا هم ویل شوي، چې اریایانو د اوسني افغانستان په شمال کې کلیوالي ژوند ته مخه کړه او په "اریاناویجه" نومي ځای کې یې ټولنیز ژوند پیل کړ. دوی په یوه ژبه خبرې کولې چې "اریک" نومېده. د هماغې ژبې ځینې کلمې او نومونه لکه آریانا، آرین او آریا د کلمو ریښه "ار" اوس هم په پښتو کې ژوندۍ ده. دې ټکو ته چې سړی وګوري، نو دا پوښتنه ورته پیدا کېږي چې د پښتو ژبې د لرغونتوب په اړه منفي ذهنیت لرل، کوم علمي اساس نه لري او باید چې سړی یې په اړه هېڅ فکر ونه کړي.

د "پښتو ژبه" سرلیک په اوږدو کې ډېر ارزښتمن ټکي څېړل شوي، چې د پښتو ژبې او پښتون اولس په باب علمي – تاریخي معلومات په کې خوندي دي او که په ټولو ټکو باندې خبرې وشي، دا لیکنه د رسالې تر کچې پورې رسوي. زما په نظر، دا مناسبه ده چې ګران لوستونکي د لا ډېرو معلوماتو د خپلولو په موخه په خپله کتاب ته مراجعه وکړي.

بله موضوع چې لیکوال څېړنه ورباندې کړې ده، "د پښتو دوه نیم زره کلنه اخلاقي حماسه" ده. د دې حماسې په اړه ویل شوي چې دا د پښتو لرغونې حماسه ده، چې دوه نیم زره کاله وړاندې د هخامنشي کورنۍ د پاچا لوی داریوش په امر د بېستون په غره کې په یوه ډبرلیک کې په مېخي خط کېندل شوې ده.

استاد رفیع لومړی د حماسې درې نیم بیتي راوړي، وروسته یې تجزیه کړي، مخففات یې ښودلي، په مثالونو کې یې راوړي او د هغوی اصلي بڼې یې چې په پښتو ژبه کې شته، ښودلې دي. استاد رفیع د خپلې شننې په ترځ کې د ډبرلیک د قطعې روح له پښتني دود او کلتور سره پرتله کړی او دا یې ښودلي دي، چې پښتون قوم په هېچا ظلم نه کوي، له رښتیا څخه نه اوړي او چا ته سر هم نه ټیټوي. له دې څخه ښکاري چې رښتیا او صداقت د پښتون په خټه کې نغښتې دي او د همدې ممیزاتو په لرلو سره یې د وخت زورور طاقتونه په ګونډو کړي دي.

پاتې برخه په بله ګڼه کې

۱ - پښتانه لیکوال، لومړی ټوک، دوهم چاپ، همېش خلیل، دارالتصنیف، پېښور، ۱۹۶۱ ع، ۲۰۷ - ۲۰۹ مخونه.
۲ - کلیات خوشحال خان خټک، د استاد کامل مقدمه او شرح، اداره اشاعت سرحد، ۱۹۶۰ ع.
۳ - خوشال خان خټک (اردو)، د استاد کامل لیکنه، اداره اشاعت سرحد، ۱۹۵۱ ع.
۴ - رحمان بابا، د استاد کامل لیکنه، اداره اشاعت سرحد، ۱۹۵۸ ع.

## په ژوندانه کې...

او پوهې نه برخمن وي، هدفونه یې هم لوړ وي او هغې ته رسېدل به هم ورته د لوړو ارزښتونو او برېو زېری وي، بریاوې او لاس ته راوړنې به یې نورو ته هم د ژوندانه د لارښوونې څراغونه روښانه کړي، هغې د ترسره کولو له پاره د ژوند ډېره برخه په هلوځلو، هاند او هڅو تېروي او په پایله کې د یوه داسې څه په اختراع یا موندنه بریالی کېږي، چې د هغې په وسیله د ژوندانه ډېرې غوټې پرانیستل اصلي او اساسي شرط نه شي ګڼل کېدای. په ژوندانه کې هدفونو ته د رسېدو له پاره ځینې لاملونه شته، چې د هغو ټولو یا ځینو په برابرېدو سره انسان کولای شي مطلوبو هیلو او ارمانونو ته ورسېږي او په زړه پورې بریالیتوب ترلاسه کړي.

## اروابناد استاد کامل...

د ده د کتابتون په پښتو قلمي نسخو کې ډېره قیمتي یې د خوشحال خان خټک د کلیات یوائینۍ نسخه ده، چې د ده زیات منظوم آثار لکه قصاید، غزلیات، رباعیات، متفرقات، فضل نامه، سوات نامه، طب نامه، بازنامه او نور

نو بیا ویلی شو چې: په ژوندانه کې تر ټولو لوړ هدف او ارمان هماغه دی، چې د هغې د تحقق او ورته رسېدو په نتیجه کې د ټولنې نېکمرغي او د خلکو خیر ښېګڼه نغښتې وي.

یا په بله وینا: ډېر لوړ او ارزښتناک هدف او ارمان باید هغه وبولو چې له ټولنیزو ارمانونو څخه سرچینه اخلي او تر سره کول او یا پرې برلاسي کېدل د نورو د ارمانونو له پاره هم ګټور او رغنده وي. د بېلګې په توګه، که یو پوه او عالم په پام کې ونیسو چې یو ډېر ستر او علمي ارزښت لرونکی هدف ځان ته ټاکي او د کېږي او بشري ټولنه له زیاتو ستونزو څخه ژغوري. کوم هدف چې لوړ انساني ارمان او د انسان پالنې او بشردوستۍ ټول او یا ډېر اړخونه په کې نغښتي وي، نو هغه به په رښتینې توګه سپېڅلی، د ستاینې وړ او بې شمېره ویاړونه، نېکمرغۍ او بریاوې به له ځان سره ولري او څښتن به یې هم هرومرو د بشري ټولنې ستر خدمتګار او یوه منلې تاریخي څېره وګرځي.

په پایله کې دا ټکی د یادونې وړ دی چې یوازې د هدف لرل، هېڅکله د بریالیتوب ډېر مهم عوامل چې هدف ته د رسېدو په لاره کې رغنده، ټاکونکی نقش او اغېزه لري، هغه: د هدف ټاکل، کلک عزم او هوډ، د هدف تعقیبول، جدي اقدام، پر ځان باور، مینه او علاقمندي، کارپوهه او تدبیر، استقامت، د ستونزو او کړاوونو په وړاندې صبر او زغم، نه ستړې کېدونکې هلې ځلې، پرشانه تلنه او تردې ټولو د مخه پر لوی خدای (جل جلاله) توکل او د مرستې هیله او ډاډ دی، چې د غوره انساني موخې او مقصد لوړې څوکې ته د رسېدلو لاره پرانیزي.

په کې راغلي دي او بله یې د تاریخ مرصع یوه ښه او نسبتاً بشپړه نسخه ده، همدارازنور په سوونو قېمتي چاپي کتابونه په کې شته چې د علم یوه ښه پانګه یې جوړه کړې ده.

**د استاد کامل مړینه:**

استاد کامل د ژوند پنځه شپېته کلونه بشپړ کړي وو، دی لا د مړینې نه و، ده نور هم ژبې، ادب، تاریخ او پښتو ته خدمت کولی شو، خو افسوس چې مرګې بیړه پرې وکړه، د سالنډۍ مهلکې ناروغۍ یې د ژوند دفتر ورونغښت او استاد کامل یې بې وخته له موږ څخه بېل کړ.

دی ولاړ، خو یاد به یې تل له موږ سره وي، څو چې پښتو او څو چې پښتون وي، د ده آثار به ژوندي ساتي او د پښتونخوا په تاریخ او د روه په سیمه کې به تل ژوندی او جاوېدان پاتې وي.

د کامل صاحب شعرونه ډېر دي، خو زه یې د نمونې په ډول لاندې شعر راوړم:

ښایسته که هر څو ډېر دي
هسې نه چې ستا په څېر دي
د جهان خوبان مې واړه
ستا د مخ په دور هېر دي
کرشمې د نورو هم زده
خو دا ستا لا په بل پېر دي
زه او ناز که د هر چا خو
پښتانه ونیاز ته زېر دي
لوی په چار د زړه ساتنه
نو خو تش په وړه دلېر دي
د دنیا غمونه لاړل
ستا غمونه را چاپېر دي
دي آزاد هم هغه زړونه
چې په زلفو کې دي ګېر دي
زړه مې تل وي په کې جمع
که زلفان دي تېرو بېر دي
ته زما زه کامل ستا یم
که تر شمېر ښایسته تېر دي

**لمنلیکونه:**

په دې لیکنه کې زما پر خصوصي معلوماتو سربېره، له دې آثارو څخه هم استفاده شوې ده:

۵ - تاریخ مرصع، د افضل خان خټک، د استاد کامل سریزه، سمون او نوټونه، یونیورسټي بک ایجنسي، ۱۹۷۴ع.
٦ - د سکندر خان خټک دیوان، د استاد کامل په سریزه او سمون، اداره اشاعت سرحد، ۱۹٦۳ع.
۷ - ګجرې، د قلندر مومند، یونیورسټي بک ایجنسي، د کامل سریزه، ۱۹۵۸ع.
۸ - زما سندرې، همېش خلیل، دارالتصنیف، ۱۹۷۳ع، د استاد کامل سریزه.
۹ - یون، استاد حمزه شینواری، د استاد کامل سریزه، پېښور.
۱۰ - رهبر (مجله)، د ۱۹۵۷ع کال پنځه ګڼې، د علیخان د پېژندنې په باب د کامل پرله پسې مقاله.
۱۱ - لار (مجله)، رحمان نمبر ۱۹۵۹ع کال، ۸ ګڼه، د رحمان بابا پر کتاب د کامل صاحب رساله.
۱۲ - لار (مجله)، د لومړي کال دوهمه ګڼه، ۱۹۵٦ع، د خوشحال بابا په باب د کامل صاحب قصیده.
۱۳ - ننګیالی، ۳ ګڼه، ۱۹۵۷ع، د کامل صاحب غزل.
۱۴ - الفلاح (پښتو ایډیشن)، ۱۹۵۵ع، د کامل صاحب قطعه.
۱۵ - آزاد افغانستان، پېښور، د ۱۳۳۱ کال کلکسیون، د رحمان بابا د ژوند په باب د کامل صاحب دري مقاله.
۱٦ - پلوشه مجله، د ۱۳۵۷ المریز کال د پسرلي ګڼه، د حبیب الله رفیع د پښتو څېړنې او پالنې مرکزونه، وروستۍ برخه، د ولسي ادبي جرګې په باب.
۱۷ - د پښتو د نامتو محقق همېش خلیل یادداشتونه.

## د وطن مینه

**څېړنپوه نصرالله ناصر**

دوطن په مینه ځان سوځم پتنګ یم
دوطن له هر غلیم سره په جنګ یم
وردانګمه سره اور ته، نه وېرېږمه
پروادار د سیم و زر، نه داورنګ یم
په وطن باندې مې سر ایښی خیرات دی
ګران وطن مې دی زیارت زه یې ملنګ یم
۱۳٦۵/۹/۲۱

## د شعر او ادب...

همدې ځورېده چې به ترې وپوښتل شول: "د ادب ګټه څه ده". دا پوښتنه به ورته ډېره بې منطقه ښکارېده، تر دې چې ویل به یې: "هېڅوک د قمري د غږ د ګټې پوښتنه نه کوي، د لمر د ډوبېدو ګلابي منظر پوښتنه نه کوي". سره له دې چې بشري اختراع او نوښت دی، نو باید دا پوښتنه مطرح کړو، چې څنګه او ولې دې نړۍ ته راغلی دی، ګټه یې څه ده او ولې په پېړیو پېړیو پاتې شوی دی؟

**په اسلام کې د شعر ارزښت او ګټه**

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په داسې وخت کې په اسماني رسالت مبعوث شو، چې عربي ادب په خپل وروسته برید ولاړ و، عربانو به خوږه او ښکلې قصیده د "هبل" پر غاړه راځړوله، هبل بت د کعبې په منځ کې و، د شعر خدای بلل کېده، له یونان څخه راوړل شوی و، قران کریم نازل شو، عربي ادیبان او شاعران یې وارخطا کړل، کله چې به قران کریم لوستل کېده، نو دوی به خپل فاحش شعرونه زمزمه کول چې خلک له قرانه راوګرځوي، همغه وچې په اړه یې ایتونه نازل شول، خو له دې سره سره بیا هم رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خپل شاعر درلود او هغه حسان بن ثابت و. د احد په غزا کې پرې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) غږ وکړ: (اهجوهم و روح القدس معک)، یعني شعري برید پرې وکړه، جبریل درسره دی.

د یوې مشرکې قبیلې مشران د شعري او نثري سیالۍ له پاره رسول الله ته راغلل او شرط یې کېښود، که موږ سیالي وګټله، نو پر تا باور کوو، ایمان راوړو، رسول الله صلی الله علیه وسلم حسان بن ثابت راوغوښت، د خطابې له پاره یې قیس راوغوښت، کله چې سیالي پای ته ورسېده، نو د قبیلې مشر وویل: خطیب مو زموږ له خطیبه یوړه او شاعر مو زموږ له شاعره وګټله، هم هغه وچې ایمان یې راووړ. عمر بن الخطاب رضي الله عنه به ویل: "علیکم بدیوان العرب" یعني تاسې باید د عربانو شعرونه ولولئ. د بدر په غزا کې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل تروروزی وواڅه، دا هغه بدبخته وچې په کعبه کې یې د رسول الله په ورمېږ پښه کېښوده او هغه وخت ورته رسول الله اخطار ورکړ، که له مکې نه د باندې راسره مخ شوې، بیا دې وژنم، ده به په قران باندې ملنډې وهلې، کله چې یې خورد خپل ورور په اړه یوه سانده وویله او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسېده، هغه وویل، که مې دا د ده له مرګه مخکې اورېدلې وای، نو پریښی به مې و.

په بشري تاریخ کې د شعر د ارزښت په اړه په زرګونو بېلګې شته چې بحث اوږد نه شي، نو د دې وړوکې مقالې په پای کې دې ته رسېږو چې شعر له تاریخي او اجتماعي ګټو سربېره لویې دوه ګټې لري.

۱ـ یو د شعر جمالیاتي اړخ دی چې دغه برخه یې کولی شي په مخاطب کې د ښکلا احساس پیاوړی کړي، عاطفه یې صیقل کړي او بیا چې هر چېر ته بدرنګې ووینې، پر وړاندې یې د بغاوت توغ پورته کوي.

۲ـ د طبیعت پر وړاندې مو د وېرې احساس راکموي، له طبیعت سره مو تناسق او تطابق راولي، د ژوند نااشنا ګوټونه راته راسپړي، یو مهال به انسان له ځنګله څومره ډارېده، خو که هغه انسان د معاصر شاعر کاروان ځنګل ته لیکلی نظم ولولي، نو پر ځنګل به مین شي او یا د حمزه بابا دغه خوږه هیله چې له خپلې معشوقې څخه یې کړې، ولولي، نو له ځنګل سره به یې څومره مینه پیدا شوې وای؟

هره ټولنه که غواړي، پرمختګ وکړي، باید له هر څه نه مخکې ادب ته مخه کړي، څو یې جمالیاتي حس پیاوړی شي، مادي او معنوي ارزښتونه یې پر یوه کنډه برابر وخېژي، هسې نه یا ماده پرستان شي او یا هم راهبان شي او دې دواړو ته په افغاني ټولنه کې ځای نشته.

چهارشنبه ▣ ۱۷ – ۲۰ مه ګڼه ▣ دریېمه دوره ▣ پرله پسې ۲۴۱ – ۲۴۴ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۴ لمریز کال د مرغومي (جدي) ۳۰ مه ▣ ۱۴۳۷ هـ ق کال د ربیع الثاني ۹ مه ▣ ۲۰۱۶ زېږدیز کال د جنوري ۲۰ مه ▣ ۴ مخ

# زېړی

پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې
مسوول مدیر: څېړندوی محمد اصف احمدزی
مهتممه: څېړندویه ملکه مشتري
کمپوز او ډیزاین: م. ا. احمدزی
zerai1316@gmail.com
facebook.com/Zeerai1316
۰۷۷۷۳۰۰۴۷۱

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنیز ارګان
د یوې ګڼې بیه: پنځه افغانۍ
پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلور لارې، نوی ښار، کابل – افغانستان

په زېړي جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی، په خپله د لیکوالو په غاړه دی.

# اروابناد استاد کامل مومند

▣ څېړندوی حبیب الله رفیع — دویمه او وروستۍ برخه

**په نورو ژبو لیکنې:**

کامل صاحب په پښتو سربېره په دري، اردو او انګریزي هم لیکنې کولې او له عربي او ترکي نه یې ښه استفاده کولی شوه، په اردو او انګریزي یې ځانګړي آثار تألیف کړي او خپاره شوي دي او په فصیحه دري یې په "آزاد افغانستان" کې مقالې راغلې دي، خو دده ټولې ژبې د خپلې مورنۍ ژبې پښتو او پښتنو د معرفۍ له پاره استخدام کړې او د دې ژبو ویونکو ته یې په دې وسیله پښتو او پښتانه ور پېژندلي دي.

**د علم او حلم یوه لوړه نمونه:**

کامل صاحب، لکه څومره چې زیات علم درلود، هماغومره یې حلم او تواضع درلوده، ده له هرچا سره له صمیمیت او مینې ډک برخورد کاوه او لکه څرنګه یې چې د مشرانو قدر او درناوی درلود، هماغومره یې پر کشرانو شفقت او پېرزوینه وه او له زیات تشویق او هڅونې نه یې کار اخیست، ده له دې لارې ډېر ځوانان روزلي او د پښتو ادب په ګلزار کې یې ډېر ادبي نیالګي مېوې او ثمر ته رسولي دي.

**روڼ فکره پښتون:**

وړومبی د متعلق باب له ابتدایي برخې یو اقتباس ښاغلو لوستونکو ته پېش کړم او فیصله به هغوی ته پرېږدم چې د عقاب صاحب خپګان ترڅو ځای لري:

"رحمان بابا که هرڅو د پښتنو خواصو او عوامو له ټولو زیات مقبول او محبوب او په یو معنا کې د پښتونخوا ملي شاعر دی – موږ هغه په دې نامه په هغو معنو کې نه شو بللی، په کومو کې چې وطن دوستان شاعران بلل کېږي – هغه شاعران چې د چا په کلام کې له خپل وطن سره له خوږې مینې ډکې سندرې او له دښمنه د ده د ژغورلو په مراد د قام د اوچتولو د پاره له جوش او ولولې ډکې نارې دي، کوم چې زموږ په ادب کې د خوشحال بابا او خدایي خدمتګارو شاعرانو د آثارو له خصوصیاتو څخه دي."

"سره د دې خصوصیت د نه لرلو د وطنیت یا مقامیت له نقطه نظره موږ د رحمان بابا په کلام کې د ماحول او ذهني ورثې ښکاره اثرات وینو."

ترڅو چې د قبیلوي او علاقایي تعصب یا له بلې کومې وجهې د خان بابا مقام ته د رحمان بابا رسولو د خواهش او کوشش خبره ده، نو په زلمو د مټو زور دی، نو رحمان بابا یې د سترګو تور او د زړونو ټکور دی او د غه شان د پښتونخوا هر یو شاعر، ادیب او فنکار که پخواني وي که اوسني د خپلو آثارو له مخې زموږ د ثقافتي محفل زینت او رونق دي او بیا په دې هکله د ختکو له بښنې به څوک څنګه انکار وکړی شي، چې زموږ د بهترین کلاسیکي ادب یوه ډېره لویه او اهمه برخه د هغوی د کوشش نتیجه ده او هم دغه وجه ده، چې تراوسه د خدای په فضل د پښتو ادب د ختکوالې برخې په خدمت کې که کاکړ، یوسف زي، خلیل، مومند او داودزي او نور پښتانه د خپلو ختکو وروڼو نه وړاندې نه دي، نو ترې وروستو هم نه دي، خو دا په ختکو څه احسان نه دی، د خان بابا، اشرف خان هجري، سکندر خان، عبدالقادر خان، افضل خان، کاظم شیدا، کامګار خان، سعید او د خوشحال خان شهید زوی نواز د دوی آثار صرف د ختکو نه دي، بلکه د ټولو پښتنو ادب او قامي پنګه ده، لکه چې رحمان بابا یوائې د خلیلو، مومندو د پاره شاعري نه ده کړې، بلکې د خوبانو د زلفو په شان د خپلو مشکینو شعرونو په ذریعه یې د افغانانو کشور

# ادبي او فرهنګي خبرونه

✸ محمد اصف احمدزی

**په خوست کې د "غزلیز ماښام" مشاعره وشوه**

په خوست کې د" غزلیز ماښام" تر سرلیک لاندې مشاعره د لیندۍ په درېمه د ولایت په مقام کې جوړه شوه، چې د دغه ولایت پر فرهنګیانو سربېره له پکتیا او ننګرهاره راغلو شاعرانو او فرهنګپالو په کې هم ګډون کړی و او شاعرانو په کې خپل شعرونه وویل. د خوست والي حکم خان حبیبي په وینا، له دې مشاعرې یې موخه د فرهنګیانو یو ځای کول او د اوسنیو کمزورو فرهنګي فعالیتونو پیاوړي کول دي.

**په ډنمارک کې د شعري ټولګې (د ارغچ چینه) د مخکتنې غونډه وشوه**

د ډنمارک په کوپنهاګن کې د پانوس پتنګانو له لوري په یوه غونډه کې د انجنیر عیسی بهرام د شعري ټولګې (د ارغچ چینه) مخکتنه د لیندۍ په اوومه وشوه. په دې غونډه کې د اروپا له مختلفو هېوادونو څخه شاعرانو، لیکوالو، هنرمندانو او د شعر مینه والو ګډون کړی و او ویناوالو په کې د بهرام د شعري ټولګې په اړه مقالې او ویناوې واورولې. په دې ناسته کې د مخکتنې ترڅنګ مشاعره هم وشوه. ( تاند وېبپاڼه)

**د خرقې مطهرې ودانۍ او د احمدشاه بابا مقبره بیاورغول شوې**

په کندهار کې د خرقې مطهرې ودانۍ او د احمدشاه بابا مقبره د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا بیاورغول شوې. پر دې ودانیو کابو ۲۱ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی، چې د لیندۍ په ۱۳ مه یې پرانیسته وشوه.

**په کابل کې د هندوستان د لنډمهالي**

**حکومت د اعلام د سلمې کالیزې په مناسبت علمي ـ څېړنیز سیمینار جوړ شو**

په کابل کې د هندوستان د لنډمهال حکومت د اعلام د سلمې کالیزې په مناسبت علمي ـ څېړنیز نړیوال سیمینار جوړ شو. دغه دوه ورځني سیمینار چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له لوري د لیندۍ په لسمه او یوولسمه جوړ شوی و، په کې یو شمېر کورنیو او بهرنیو پوهانو او څېړونکو، علمي، فرهنګي، سیاسي او ډیپلوماتیکو شخصیتونو ګډون کړی و او د موضوع په اړه علمي ـ څېړنیزې مقالې په کې وړاندې شوې.

د سیمینار ګډونوالو په ۲۰ علمي مقالو کې د هندوستان د مؤقت حکومت پر ارزښت، تاریخي پسمنظر، مخکښو شخصیتونو، بریاوو او پاتې راتلنو او مرتبه آثارو هر اړخیزه رڼا واچوله.

د سیمینار په پای کې پرېکړه لیک هم صادر شو، چې په کې ګډونوالو د سیمې له حکومتونو، نړیوالو او سیمه ییزو څېړنیزو او علمي بنسټونو څخه لاندې غوښتنې وکړې:

۱ - د سیمې حکومتونه، نړیوال او سیمه ییز څېړنیز او علمي بنسټونه د تاریخ د دې مهم باب د راسپړلو او د سیمې د مشترک انساني میراث پالنې ته د ژمنتیا په منظور، پر دې او نورو موضوعاتو دې ګډو علمي ابتکاراتو ته دوام ورکړي.

۲ - اړوند حکومتونه او بنسټونه باید د بېلابېلو استازو، سفارتونو، قونسلګریو او بنسټونو له لارې د

کامل صاحب په تېر د پښتنو مومندو له پښې ښخه و، خو د ده فکر دومره وړوکی نه و چې د "مومندو" په واړه کالب کې ځای شي، نو ځکه ده ځان ټول پښتون ته منسوب ګاڼه او خپل ژوند یې د پښتو او پښتون خدمت ته وقف کړی و. یو وخت چې عقاب خټک په خپل رحمان بابا نومي اثر کې د کامل صاحب پر رحمان بابا نومي کتاب کې مومندواله کړې، نو دی په ډېره نرمه او خوږه لهجه ورته لیکي:

"ښاغلی عقاب د رحمان بابا د قبیلې او علاقې په ادب کې د ډله بازۍ او پره دارۍ اعتراض او اګر که زما نامه خو یې نه ده اخیستې، خو داسې زما په هکله دا خیال انګېزي هم کوي، چې ګڼه ما د عزیزولۍ او قبیلوي تعصب له کبله د رحمان بابا د یو قومي شاعر ثابتولو او دغسې خوشحال بابا ته د رسولو کوشش کړی دی. ښاغلی عقاب په دې خپه ښکاري چې هر کله د قومي شاعر نوم خوشحال بابا سره مخصوص و، نو په خپل کتاب کې د "مقامیت او قومیت" تر سرخط لاندې د رحمان بابا هغه اشعار ولې راغونډ کړي دي، چې (کم از کم زما په خیال کې) تر یې مقامي او قومي رجحانات څرګند یږي، په دې هکله به زه خان بابا لیکلو شوو کتابونو او مضمونو کې به د هغه په هکله زما وینا ګانې هڅو پرېږدو او په رحمان بابا کې به زما دا وینا وڅېړو:

"د مرزا د مرګ نه اتلس کال وړومبی د ربیع الثاني سنه ۱۰۲۲هـ، مې –جون ۱۶۱۳ع کې د پښتو د ټولو نه لوی شاعر، ادیب او محسن او د پښتنو ملي قاید خوشحال خان خټک زېږېدلی و."

پاتې که بل څوک رحمان بابا د خان بابا نه لوی او ښه شاعر ګڼي، نو د هر چا خپل خپل خیال، رای او خوښه ده او که په دوی کې څوک خلیل، مومند یا داودزی وي، نو دا وینا به له انصافه څومره لرې وي چې دا خیال او رای د قبیلوي او علاقایي تعصب له کبله ده! داسې خو به موږ ګویا غوریه خېل په دې خبره مجبور وو چې هغوی دې خان بابا ته د رحمان بابا نه ښه شاعر وایي او په بل شان به په خټکو زور اچوو، دلته به دا ویل بې ځایه نه بلکې مناسب وي چې د خان بابا یا رحمان بابا د بل نه لوی شاعر ګڼل د هغه بل له شاعرانه عظمت نه د انکار مترادف نه دي، دواړه په خپل خپل ځای ډېر لوی فنکاران او زموږ د عزت او احترام وړ دي. که خوشال د پښتنو سپین ږیرو عقل او د معطر کړی دی، نو د هغه نه مخکې خان بابا هم صرف د سینو، بارکو او ساغرو ژبه نه ده روزلې، بلکې "د پښتو ژبه" یې په آب و تاب کړې ده، د هغه پیغام صرف د خټکو د پاره نه، بلکه د درست پښتون د پاره و:

**مګر زه یې چې ګویا په شاعرۍ کړم**
**پښتانه یې پوهول ایزد تعال..."**

(لار مجله، رحمان نمبر، ۱۹۵۹ع اګست، ۳ ټوک، ۸ ګڼه، ۷۴ - ۷۶ مخونه. د عقاب خټک پر کتاب د کامل صاحب رساله)

او کامل صاحب د پښتنو د بېلابېلو قومونو د پیوستون له پاره داسې ترانې ویلې:

**ستا و خاورې ته یې زمکې د خټکو**
**زما مینه او هم وینه ارمغان ده**
**غوریه خېل د رلره وګوره راغلي**
**جوړ خوشال وته جرګه د ایمل خان ده**

**کامل کتابتون:**

کامل صاحب د نادرو چاپي او قلمي کتابونو یو په زړه پورې کتابتون جوړ کړی و، په دې کتابتون کې د پښتو، دري، عربي، انګلیسي، اردو، هندي او نورو ژبو ګڼ شمېر کتابونه راغونډ شوي وو، چې زیاته برخه یې له پښتو او پښتنو سره د مربوطو مسایلو درلودونکي وو.

درېیم مخ

## "د پښتو ژبې ګرامر"

څېړنپوه عبدالرحیم
بختانی خدمتګار




"د پښتو ژبې ګرامر" هغه کتاب دی چې په ۱۹۷۰ز کال کې د نامتو روسي ختیځ پوه کنستانتین الکساندرویچ لېبېدوف له خوا په روسي ژبه تألیف شوی دی. دا اثر د نړیوالو اړیکو د انستیټوټ له لوري په مسکو کې په ۱۹۷۰ز کال کې په ۳۶۰ مخونو کې چاپ شوی دی.

د کتاب په پیل کې د پروفیسور لېبېدوف له خوا یوه سریزه وړاندې شوې ده. په دې برخه کې ددې سریزې یوه برخه وړاندې کوم: "دغه علمي کار لومړنی تجربه ده، چې د پښتو ژبې ګرامر په عام فهمه معیارونو باندې ترتیب شوی دی. دا کتاب یو توصیفي –علمي ګرامر دی او د هغو کسانو له پاره چې د پښتو ژبې له زده کړې سره علاقه ولري، یو ګټور علمي اثر دی. ددې کتاب د لیکلو په جریان کې ما د پښتو ژبې د عمومي ادبیاتو، ادبي اخبارونو، ادبي مجلو، هنري او فولکلوري ادبیاتو له منابعو څخه ګټه اخیستې ده".

نوموړی کتاب نهه فصلونه لري، چې لاندې موضوعات په کې شامل دي: د پښتو ژبې په اړه لنډ عمومي معلومات، د پښتو ژبې د غږونو سیستم، د پښتو ژبې مورفولوژي، د پښتو ژبې ضمیرونه، د پښتو ژبې فعلونه، نحو، د پښتو اساسي جملې، د پښتو دوهمه درجه جملې او د پښتو سختې جملې.

دا کتاب د هغو روسي ژبو له پاره چې پښتو ژبه زده کوي، ډېر ګټور دی. تر کومه ځایه پورې چې زه معلومات لرم، دا کتاب تراوسه پورې په پښتو ژبه نه دی ژباړل شوی. زما په نظر، که په پښتو ژبه وژباړل شي، د پښتو ژبې د ګرامر د کتابونو په برخه کې به یو بل علمي اثر، چې د یوه بهرني څېړونکي له خوا لیکل شوی دی، زیات شي.

دې موضوع او نورو تاریخي او علمي موضوعاتو په اړه علمي سرچینو ته د لاسرسي زمینه برابره کړي.
۳ - د سیمې حکومتونه او علمي او څېړنیز بنسټونه دې د فیلوشیپونو، سکالرشیپونو، علمي سیرونو او معلوماتي تبادلې د زمینو پر پراختیا کار وکړي او له دې لارې دې د ملتونو په کچه مثبتو اړیکو ته پراختیا ورکړي.
۴ - ګډونوال د افغانستان له علومو اکاډمي، د پېښور او کویټې له پښتو اکېډمیو او د هندوستان د جواهر لال نهرو پوهنتون له پښتو څانګې غوښتنه کوي، چې په راتلونکي کې د خپلو علمي او څېړنیزو هڅو د شراکت لپاره ګډې علمي پروژې پلې کړي.
۵ - په هند کې د افغانانو د آثارو د خوندي کولو لپاره یوې مربوطې اکاډمۍ ته اړتیا ده، چې د هند او افغانستان دولتي مقامات باید د دې کار لپاره عملي ګامونه پورته کړي.
۶ - پرون چې افغانستان د هند د آزادۍ د هڅو ملاتړ کاوه، نن افغانستان په ستونزو کې ایسار دی، باید هند او پاکستان دواړه له افغانستان سره د ورورۍ په هماغه جذبه لاس پر کار او د سولې او امنیت راوستلو په برخه کې مرسته وکړي.
۷ - ګډونوال د هندوستان له مقاماتو، په ځانګړې توګه د هندوستان له سفیر څخه غوښتنه چې دې ته ورته د یوه علمي سیمینار تابیا په هندوستان کې هم ونیسي.
۸ - اړوند حکومتونه او بنسټونه باید په هند کې په پښتو، دري او اردو ژبه د افغانستان اړوندو زړو خطي او چاپي آثارو د بیارغونې، چاپ، بیاچاپ، ترویج او ژباړې امکانات برابر کړي.
۹ - له اړوندو حکومتونو غوښتنه کوو چې په هند او سیمه کې د افغاني شاهانو د تاریخي آبداتو رغونو ته توجه وکړي.

### د افغانستان باختري اثار په چاپان کې ننداري ته وړاندې شول

د افغانستان د ملي موزیم ۲۳۱ باختري آثار د جاپان په "کیوشو" ملي موزیم کې د مرغومي میاشتې په څلورمه د سلواغې تر ۲۵ مې ننداري ته اېښودل شوي دي.

په کابل کې د جاپان سفارت په خبرپاڼه کې راغلي، چې دغه آثار د جاپان د "فکوکا" ښار په دغه موزیم کې ننداري ته اېښودل شوي دي. په دې آثارو کې د بغلان ولایت د فلول تپې، د جوزجان طلا تپې، د تخار آی خانم او د پروان ولایت د بګرام ولسوالۍ د لرغونو سیمو آثار شامل دي.

د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مرستیال زردشت شمس، د دغه نندارتون موخه نړیوالو او په ځانګړي ډول د جاپان خلکو ته د افغانستان د لرغوني تاریخ او بډای فرهنګ ور پېژندل په ګوته کړي دي.

### لیکوال او شاعر حبیب الله زړه سواند وفات شو

د پښتو ژبې شاعر او لیکوال حبیب الله زړه سواند د مرغومي په ۲۶مه، وفات شو. زړه سواند د عمرا خان زوی، د ننګرهار د هسکې مېنې ولسوالۍ د ګذرې په کلي کې زېږېدلی و. له ۱۳۳۹لمریز کال راهیسې یې د هېواد په فرهنګي کړیو او رسنیو کې لیکنې او شعرونه ویل او خپرول او شاوخوا پنځلس چاپ او ناچاپ کتابونه لري.



چاپ شوي آثار یې: لېونۍ (د لنډو کیسو ټولګه)، ننواتی (د شعرونو غونډ)، سپینه ډوډۍ (ژباړه)، ارمانونه (د شعرونو غونډ)، مرور ماښام (د شعرونو غونډ)، د ګلانو سړی (ژباړه)، شعرونه او شوګیرونه (د شعرونو غونډ)، د ماشوم غږ (د شعرونو غونډ)، سپینه کوتره (د لنډو کیسو ټولګه)، تنها کې (د شعرونو غونډ)، د سیند په غاړه (د شعرونو غونډ) او وینې پر ګلاب وینې (د شعرونو غونډ).

ناچاپ آثار: شاتو کې زهر (د لنډو کیسو ټولګه)، زه چې ماشوم وم (د ماشومانو له پاره انتباهي کیسې) او ګل شو پاڼې پاڼې (د څلوریزو او غزلو ټولګه).

### د استاد محمد صدیق پسرلي د دوهم تلین په مناسبت غونډې جوړې شوې

د غزلستوري استاد محمد صدیق پسرلي د دوهم تلین غونډه د افغان ادبي بهیر له خوا د مرغومي په ۲۵مه، د کابل په کتابښار کې وشوه. په دې یادغونډه کې د نوموړي په اړه مقالې او ویناوې واورول شوې. دغه راز په غزني کې د کلیوال ملګري ټولنې له لوري هم د اروابښاد صدیق پسرلي د دوهم تلین په مناسبت غونډه د مرغومي په ۲۶مه، جوړه شوه، چې په کې د پسرلي په ژوند، شاعرۍ، فعالیتونو، آثارو او ټولنې ته د کړي خدمت په اړه په کې خبرې وشوې. تر دې وروسته د استاد په یاده مشاعره هم وشوه.

### د شاعر محسن مختار په ویاړ ادبي غونډه ترسره شوه

د افغانستان قلم ټولنې د مرغومي په ۲۶مه له محمد محسن مختار سره د مازیګرۍ تر سرلیک لاندې ادبي غونډه جوړه کړې وه. په دغې ادبي غونډه کې د هغه د ۶ چاپ شویو شعري ټولګو، د شاعر پر شعري پنځونو باندې خبرې وشوې او د غونډې په منځ منځ کې د یاد شاعر بېلابېل شعرونه هم ولوستل شول.